مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۳۰** (از ۲۰ الی ۲۷عقرب ۱۳۹٦ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**ایا د لویې جرګې رابلل به اوسنی ستونزې حل کړي؟**

کوم ډول لویه جرګه؟ ........ ۴

حامد کرزی او د لویې جرګې غوښتنه ........ ۵

آیا لویه جرګه به اوسنی وضعیت بدل کړي؟ ........ ۵

**کنفرانس ریکا؛ نشست بزرگ اقتصادی در منطقه**

کنفرانس ریکا «RECCA» ........ ۷

تعهدات «ریکا» تا چه اندازه عملی شده‌اند؟ ........ ۷

در کنفرانس «ریکا-۷» چه گذشت؟ ........ ۸

راه لاجورد و اهمیت آن در منطقه ........ ۹

## مقدمه

پخواني ولسمشر حامد کرزي کابو یو کال وړاندې په هېواد کې د شته ستونزو د هواري لپاره د لويې جرګې د رابللو غوښتنه کړې وه. تر هغه مخکې د پارلمان يو شمېر غړو او پخوانيو جهادي قوماندانانو هم دا ډول غوښتنې کولې؛ خو اوس بيا د دغسې جرګې د جوړېدلو لپاره له حکومت څخه دباندې عملا هڅې پيل شوې دي.

د لويې جرګې د رابللو بحث دا ځل هم د پخواني ولسمشر لهخوا راپورته شوی دی. د حامد کرزي په وينا، د اوسنيو ستونزو د هواري يوازينۍ لاره د لويې جرګې رابلل دي. دا چې د دغو غوښتنو اهداف څه دي؟ ايا په اوسني وخت کې د دوديزې لويې جرګې د جوړېدو شونتيا شته او کنه؟ او ايا دا ډول جرګه به رښتيا هم اوسنۍ ستونزې حل کړي؟ هغه پوښتنې دي، چې د ستراتېژيکو او سيمهييزو څېړنو مرکز د دې اوونۍ د تحليل په لومړۍ برخه کې ځواب شوې دي.

د تحليل په دويمه برخه کې د ترکمنستان په پلازمېنه عشقاباد کې د ريکا اووم کنفرانس په اړه لولئ. که څه هم د افغانستان په اړه په تېره يوهنيمه لسيزه کې ډېر نړېوال او سيمهييز کنفرانسونه جوړ شوي؛ خو ريکا کنفرانس د خپل ډول ترټولو ستر کنفرانس دی او د سيمې او نړۍ د لسګونه هېوادونو استازي پکې راټولېږي.

د ريکا کنفرانسونو پروسه له ۲۰۰۵ کال راهيسې دوام لري، چې اوومه غونډه يې تېره سهشنبه او چارشنبه په ترکمنستان کې وشوه او په دويمه ورځ يې د لاجوردو لارې پنځهاړخيز هوکړهليک هم لاسليک شو؛ خو دا چې په ټوله کې تراوسه د دغو کنفرانسونو پرېکړې او ژمنې تر کومه بريده عملي شوې دي؟ دا پروسه څه لاستهراوړنې لري؟ او د دغې لړۍ په وروستي کنفرانس کې څه تېر شول؟ هغه پوښتنې دي، چې په دويمه برخه کې ځواب شوې دي.

# ایا د لویې جرگې رابلل به اوسنۍ ستونزې حل کړي؟




د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزي څه باندې یوه میاشت وړاندې په یوه خبري کنفرانس کې د لويې جرگې د رابللو خبره مطرح کړه. کرزي وويل، دا غوښتنه يې د حکومت مشرانو ته د يوه ليک په استولو سره مطرح کړې ده.

د کرزي په وينا، موږ هم له امريکا او هم له گاونډيانو او د نړۍ له نورو هېوادونو سره دوستي غواړو؛ خو د امريکا نوي تگلارې افغانستان د زبرځواکونو د تقابل په ډگر بدل کړی.

که څه هم افغان حکومت د کرزي د دغې غوښتنې په ځواب کې کوم مخامخ غبرگون ونه ښود؛ خو د ولسمشر وياند شاه حسين مرتضوي له رسنيو سره په خبرو کې د امريکا اعلان شوې ستراتېژي گټوره او د سيمې له حالاتو سره مناسبه وگڼله او ويې ويل، چې حکومت د پخواني ولسمشر نظر ته درناوی لري. د ده په وينا، حکومت د هر هغه نظر چې مثبت وي او په هېواد کې له سولې او ثبات سره مرسته وکړي، هرکلی کوي.

د يوې مياشتې له تېرېدو وروسته، کله چې د لويې جرگې خبره نوره هم گرمه شوه، ولسمشرۍ ماڼۍ تېره اوونۍ (د نومبر ۱۵مه) د يوې ويناپاڼې په خپرولو سره د لويې جرگې د جوړولو له هڅو سره مخالفت وکړ. په ويناپاڼه کې راغلي: «په دې وروستيو کې ځينو افرادو او حلقو د لويې جرگې د رابللو اوازې خورې کړې او د هېواد ځينو

ولايتونو ته يې خپل افراد هم استولي. هغوی نه يوازې د حکومت رسمي استازي نه دي، بلکې عام خلک هم له دوی سره په ناستو او مشورو مکلف نه دي.»

د ولسمشر د دفتر ويناپاڼه کاږي، چې دا پروسه د افغانستان له نافذه قوانينو سره مطابقت او رسميت نه لري او د حکومت کارکوونکو ته لارښوونه کېږي، چې په دې پروسه کې له ګډون څخه ډډه وکړي.

پوښتنه دا ده، چې ايا دا ډول لويه جرګه جوړېدونکې ده؟ او ايا د دوديزې لويې جرګې رابلل به هېواد له اوسني وضعيت څخه وباسي؟

## کوم ډول لويه جرګه؟

ملي وحدت حکومت په اوسني وخت کې نه د اساسي قانون لويه جرګه رابللی شي او نه هم دوديزه لويه جرګه؛ ځکه د اساسي قانون د لويې جرګې دايرول اوسمهال ناشوني دي. په اساسي قانون کې ياده شوې لويه جرګه به د ملي شورا له غړيو او د ولايتونو او ولسواليو د شوراګانو له رئيسانو جوړېږي، چې تراوسه د ولسواليو د شوراګانو لپاره ټاکنې هم لانه دي شوې. د دې ترڅنګ د ولسي جرګې ټاکنې هم اړينې دي؛ ځکه د اوسنۍ جرګې رسمي کاري موده او مشروعيت پای ته رسېدلی او د ټاکنو لپاره يو پر بل پسې د نېټو له ټاکلو وروسته هم ټاکنې نه دي شوې.

په بل اړخ کې يو شمېر کړی د همدغې قانوني تشې له کبله، د بېرنۍ دوديزې لويې جرګې د دايرولو غوښتونکي دي، ترڅو هېواد له روان بُن‌بست څخه وباسي. که څه هم دا ډول لويه جرګه د ولسمشر د فرمان له مخې دايرېدلای شي؛ ځکه د اساسي قانون د ٦٥مې مادې له مخې ولسمشر کولای شي په مهمو ملي، سياسي، ټولنيزو او يا اقتصادي چارو کې د افغانستان د خلکو نظر پوښتنې ته مراجعه وکړي؛ خو بيا هم ولسمشر ملزم نه دی، چې د اضطراري او مشورتي لويو جرګو پرېکړې ومني. اوسني وضعيت ته په کتلو سره به حکومت داسې لويه جرګه هېڅکله هم راونه غواړي، چې موخه يې د حکومت پرځول، له دغې لارې حکومت نقدول، بدنامول او پرځای يې د يوه نوي موقتي حکومت راتګ وي.

## حامد کرزی او د لويې جرګې غوښتنه

که د پاکستان په تړاو د امریکا د تېرې یوې لسیزې تګلارې ته وګورو نو افغان حکومت په تېره بیا پخواني ولسمشر تل د امریکا دا ډول تګلارې نقد کړې دي؛ ځکه د ده په اند د «ترهګرۍ» پرضد اصلي جګړه باید د پاکستان په خاوره کې وشي؛ ځکه له هغه ځایه وسله‌وال مخالفین د افغان حکومت پرضد جنګېږي.

امریکا په تېر کې دا ډول نیوکو ته ډېره پاملرنه ونه کړه؛ خو د ډونالډ ټرمپ له راتګ سره، د سوېلي آسیا او په تېره بیا د پاکستان په تړاو د امریکا سیاست همغسې بدلون وموند، چې کرزي یې په خپله دوره کې غوښتنه کوله. له ۲۰۰۱-۲۰۰۲ کلونو پرته دا لومړی ځل دی، چې پاکستان د امریکا تر فشارونو لاندې راځي.

بله خبره چې د ډېر تعجب وړ ده، هغه دا چې په تېر کې پخواني ولسمشر حامد کرزي په خپله د دا ډول پرېکړو درناوی نه دی کړی؛ خو اوس په خپله د هېواد د ژغورنې یوازینۍ لاره د دودیزې لويې جرګې رابلل ګڼي؟!

## آيا لويه جرګه به اوسنی وضعيت بدل کړي؟

که څه هم اوسمهال د ملي وحدت حکومت دریځ دا دی، چې د حکومت د دواړو مشرانو ترمنځ له ژمنه شوې لويې جرګې پرته به، هېڅ ډول بله جرګه راونه بولي؛ دغه راز د ملي یووالي حکومت به تر ډېره هېڅمهال هم ونه غواړي، چې د یوې داسې موضوع په تړاو چې دوی یې له ډېر وخت راهیسې په لټه کې وو (د ټرمپ د پاکستان اوسنۍ تګلاره) یوه داسې بحث ته وغورځوي، چې له کبله یې د خلکو بې‌باوري پرې زیاته شي. ځکه شونې ده، چې نور سیاسي مخالفین به دا غونډه د ملي یووالي حکومت د لا ډېرې بدنامۍ او سیاسي ابزار په توګه استعمال کړي او وروسته به بیا خپلو غوښتنو ته د ولسي غوښتنې رنګ ورکړي.

بیا هم، که د اوسنیو ستونزو د هوارې په موخه لويه جرګه راوغوښتل شي، آیا د اوسني وضعيت د بدلون او سم لورې ته د تګ تضمین به وکړای شي؟ هغه هم داسې مهال چې د دودیزې لويې جرګې د مېلمنو لېست او اجنډا په خپله اوسنی حکومت وټاکي!

په بل اړخ کې د پخواني ولسمشر په ملاتړ د دا ډول جرګې د جوړېدو شونتیا هم شته ده. که همداسې وشي، نو دا به یوازې پر حکومت د فشار واردولو یوه هڅه وبلل شي او له لومړي سره به د ملي یووالي حکومت له مخالفت سره مخ وي؛ ځکه حکومت مخکې له مخکې دا هڅه د قانون خلاف بللې ده.

# کنفرانس ریکا؛ نشست بزرگ اقتصادی در منطقه




عشق‌آباد پایتخت ترکمنستان این بار میزبان هفتمین کنفرانس همکاری‌های اقتصادی منطقوی برای افغانستان یا ریکا (RECCA) بود. در این کنفرانس که در روزهای سه‌شنبه و چهارشنبه (۱۴ و ۱۵ نوامبر ۲۰۱۷) برگزار شد، نماینده‌گان ۴۴ کشور منطقه و جهان و ۳۸ سازمان بین‌المللی شرکت کردند.

محمد سرور دانش، معاون دوم ریاست جمهوری افغانستان در رأس یک هیأت دولتی در این کنفرانس دو روزه اشتراک و با مقام‌های کشورهای عضو «ریکا» و سازمان‌های منطقوی و بین‌المللی نیز، روی چگونگی سرمایه‌گذاری، تجارت و ترانسپورت کشورهای همسایۀ افغانستان و منطقه بحث و گفتگو کرد.

یکی از رخدادهای مهم این کنفرانس امضای توافقنامۀ « راه لاجورد» میان افغانستان، ترکیه، ترکمنستان، آذربایجان و گرجستان بود.

در این تحلیل بر پروسۀ کنفرانس‌های ریکا، تاثیر کنفرانس‌های گذشتۀ ریکا بر افغانستان و منطقه، به خصوص کنفرانس اخیر، و توافقنامۀ «راه‌لاجورد» پرداخته شده است.

## کنفرانس ریکا «RECCA»

کنفرانس همکاری‌های اقتصادی منطقوی برای افغانستان به اختصار «RECCA»[1] به ابتکار وزارت خارجۀ افغانستان در سال ۲۰۰۵م کلید خورد و نخستین نشست آن نیز به تاریخ ۵ دسامبر همین سال در کابل برگزار گردید.

از سال ۲۰۰۵م الی اکنون هفت کنفرانس این پروسه برگزار گردیده است. دومین نشست ریکا در سال ۲۰۰٦ در دهلی نو پایتخت هند، سومین نشست آن در سال ۲۰۰۹ در اسلام‌آباد، چهارمین نشست آن در سال ۲۰۱۰ در استانبول ترکیه، پنجمین نشست آن در سال ۲۰۱۲ در دوشنبه پایتخت تاجیکستان و ششمین نشست آن نیز در سال ۲۰۱۵ در کابل برگزار شد. کنفرانس اخیر، هفتمین اجلاس ریکا بود که هفتۀ گذشته در عشق‌آباد تدویر یافت.

کنفرانس ریکا (RECCA) به هدف تقویت همکاری‌های اقتصادی منطقوی، ایجاد همگرایی منطقوی به منظور اجرای طرح‌ها و پروژه‌های مهم زیربنایی با محوریت افغانستان و در تامین منافع همه اعضاء، ایجاد شده است.

ریکا پس از ۱۲ سال به یک نشست اقتصادی موثر تبدیل شده و اکنونی یکی از کنفرانس‌های بزرگ به سطح منطقه است که با اشتراک نماینده‌گان بیش از ۷۰ کشور منطقه و سازمان‌های بین‌المللی برگزار می‌شود و روی پروژه‌های بزرگ زیربنایی بحث می‌کنند. با توجه به میزان بلند حضور نماینده‌گان بلندرتبۀ کشورها، این کنفرانس از اهمیت فراوانی برخوردار است و در تناظر پیوند منافع مشترک، به عنوان یک فرصت کاهش‌دهندۀ مشکلات سیاسی، امنیتی و اقتصادی مطرح است.

## تعهدات «ریکا» تا چه اندازه عملی شده‌اند؟

در شش کنفرانس گذشتۀ «ریکا»، تعهدات و توافقات مهمی چون توجه به زراعت و گسترش صنعت زراعتی، توسعۀ تجارت، توسعۀ حمل و نقل ترانزیتی، تشویق سرمایه‌گزاری خارجی در منطقه به خصوص افغانستان، استفادۀ مشترک از آب‌ها، مبارزه با مواد مخدر، ایجاد پروژه‌های اقتصادی میان کشورهای منطقه تا تمام این کشورها بتوانند در کوتاه‌مدت از آن سود ببرند، تلاش در برابر از بین بردن بی‌باوری‌های موجود میان برخی کشورها به هدف مهیا کردن زمینۀ همکاری‌های اقتصادی، همکاری کشورهای منطقه با افغانستان به منظور

[1] Regional Economic Cooperation Conference for Afghanistan.

مبدل شدن این کشور به مرکز انرژی منطقه، روی دست گرفتن یک پلان جامع برای برگشت مهاجرین افغان و نیز ساخت کمپ‌ها برای مهاجرین، ساخت سرک‌های منطقوی، ساخت خط آهن منطقوی، استخراج معادن و غیره صورت گرفته است.

پروسهٔ استانبول یا قلب آسیا، آغاز کار پروژهٔ انتقال گاز تاپی و پروژهٔ انتقال انرژی کاسا ۱۰۰۰، افتتاح خط آهن اتامراد-آقینه، کار روی خط آهن خواف-هرات، موافقتنامهٔ بندر چابهار، توافقنامهٔ راه لاجورد و غیره از دست‌آوردهایی محسوب می‌شوند که در این کنفرانس‌ها روی آن بحث صورت گرفته است.

با این هم و باوجود اهمیت فراوان این کنفرانس، بیشتر پروژه‌ها و تعهداتی که در اعلامیه‌های این کنفرانس‌ها مورد توافق قرار گرفته‌اند، روی کاغذ باقی مانده و عملا به استثنای چند مورد مشخص، کاری صورت نگرفته است. اگر تعهدات و توافقات ریکا به گونهٔ درست عملی شود، از یک‌سو زیربناهای افغانستان ساخته می‌شود و از سوی دیگر افغانستان به مرکز ترانزیت، تجارت و انرژی منطقه مبدل خواهد شد. بنابراین، نیاز به سکرتریتی در کابل برای عملی نمودن درست این تعهدات دیده می‌شود. هرچند یکی از دلائلی که مصوبات این کنفرانس کمتر جنبهٔ عملی به خود می‌گیرد، اختلافات میان برخی کشورها به عنوان مثال افغانستان، پاکستان و هند به شمار می‌رود که این کنفرانس بزرگ منطقوی را تحت تاثیر قرار داده است.

## در کنفرانس «ریکا-۷» چه گذشت؟

در کنفرانس دو روزهٔ "ریکا–هفت" در عشق‌آباد، روی ارزیابی پیشرفت‌ها در تعهدات ششمین کنفرانس ریکا، بحث روی تقویت همکاری‌ها میان تاجران و سرمایه‌گذاران در سطح منطقه، شناسایی چالش‌ها و موانع و بررسی نیازهای مالی و فرصت‌های سرمایه‌گذاری در رابطه به پروژه‌های منطقوی، تسهیل تجارت و ترانزیت، انرژی، مخابرات و ترانسپورت و پروژه‌های توانمندسازی اقتصادی زنان بود.

در روز نخست این کنفرانس یک نشست مهم در مورد تجارت منطقوی و نشست دیگری که از آن به عنوان یک رخداد مهم و تازه در تاریخ کنفرانس "ریکا" نام برده می‌شود، تحت عنوان توانمند سازی زنان در عرصهٔ تجارت برگزار گردید.

در این نشست رولا غنی بانوی اول افغانستان سخنرانی کرد و در جریان سخنرانی‌اش کنفرانس ریکا را یک چهارچوب موثر برای شکل‌گیری همکاری و همگرایی منطقه خواند و گفت که نقش زنان افغانستان در عرصهٔ

تجارت برجسته‌تر شده است و کار دوشادوش مردان و زنان باعث تقویت اساس خانواده و در نهایت جامعه و منطقه خواهد شد.

در روز دوم کنفرانس ریکا، توافقنامهٔ پنج‌جانبهٔ «راه لاجورد» میان افغانستان، ترکیه، ترکمنستان، آذربایجان و گرجستان به امضاء رسید. صلاح الدین ربانی سرپرست وزارت خارجهٔ افغانستان پس از امضای این توافقنامه در سخنرانی‌اش اظهار داشت که امضای این توافقنامه در نتیجهٔ تلاش‌های مشترک کشورهای منطقه و جهان، به خاطر تقویت اتصال و گسترش تجارت از طریق سرمایه‌گذاری روی زیربناها و بهبود همکاری و هماهنگی صورت گرفت.

در کل همه کشورهای عضو کنفرانس «ریکا» بیشتر در بخش پروژه‌های بزرگ اقتصادی و نگرانی‌های امنیتی منطقه تمرکز داشتند. بحث روی عملی شدن پروژه‌های بزرگ منطقوی به شمول پروژه‌های تاپی، کاسا ۱۰۰۰، «راه لاجورد» و سایر پروژه‌ها، از اهداف مهم این نشست بود.

## راه لاجورد و اهمیت آن در منطقه

براساس مطالعات نهادهای مستقل، این مسیر که تاریخچهٔ آن به بیش از دو هزار سال می‌رسد، یکی از مسیرهای اصلی راه ابریشم بوده است. در آن زمان احجار قیمتی افغانستان به شمول لاجورد از معادن بدخشان از همین مسیر به اروپا، بالکان و کشورهای سواحل مدیترانه صادر می‌شد و به همین دلیل نام این مسیر نیز «راه لاجورد» انتخاب شده است.

طرح «راه لاجورد» در سال ۲۰۱۴م به ابتکار افغانستان با کشورهای ذیدخل درمیان گذاشته شد که از سوی کشورهای منطقه مورد توجه و استقبال قرار گرفت. راه لاجورد که از افغانستان آغاز خواهد شد، از مسیر بندر «ترکمن‌باشی» کشور ترکمنستان، شهر «باکو» آذربایجان و منطقهٔ تفلیس گرجستان به دریای سیاه و بعدا با گذشتن از کشور ترکیه، افغانستان را به آب‌های آزاد و اروپا وصل می‌کند.

افغانستان یک کشور محاط به خشکه است و نیاز دارد تا برای ترانزیت و تجارت خود مسیرهای خوبی به آب‌ها پیدا کند. چالش‌های امنیتی و سایر مشکلات ترانزیتی در مسیر بحر هند برای افغانستان، باعث شد تا این کشور در جستجوی راه‌های بدیل برای رسیدن به بحر و ارتباط با کشورهای صنعتی و دیگر کشورهای جهان شود.

موافقتنامۀ راه لاجورد یکی از پروژه‌های دارای اولویت ریکا بوده و امضای آن از دستاوردهای مهم ریکا به شمار می‌آید. چند نکتۀ مهمی را که به راه لاجورد اهمیت ویژۀ می‌دهد و نیز برای اجرای طرح آن فرصت‌های خوبی پنداشته می‌شود، می‌توان چنین برشمرد:

**نخست؛** راه لاجورد مسیر کوتاه، ارزان‌تر و مطمئن‌تر برای وصل شدن افغانستان به اروپا است، چون از افغانستان تا بندر ترک‌باشی و نیز از باکوی آذربایجان تا ترکیه جاده‌های خط آهن وجود دارند.

**دوم؛** تعهد چین برای سرمایه‌گذاری حدود ۴۰ میلیارد دالر در این بخش، نیز فرصت خوبی برای عملی شدن طرح راه لاجورد می‌باشد.

**سوم؛** راه‌لاجورد از لحاظ هزینۀ انتقال اموال نسبت به راه پاکستان اقتصادی است.

**چهارم؛** این راه می‌تواند کشورهای آسیای جنوبی را با چین و کشورهای اروپایی، از طریق افغانستان وصل نماید.

**پنجم؛** راه‌لاجورد باعث کاهش وابستگی افغانستان برای انتقال اموال از راه‌های پاکستان و ایران خواهد شد.

**ششم؛** راه‌لاجورد یک چانس بزرگی برای کشورهای ترکمنستان، آذربایجان و گرجستان نیز است، چون مشارکت این کشورها با اروپا، باعث کاهش وابستگی آن‌ها با روسیه خواهد شد.

با این همه، نبود امنیت و ثبات در افغانستان و منطقه، نبود اطمینان از همکاری ایران و روسیه در عملی کردن این طرح، مهیا نبودن زمینه‌ها برای انتقال کالا و خدمات دیگر در کشورهای که می‌خواهند از این طرح استفاده کنند، چالش‌هایی اند که در برابر «راه لاجورد» قرار دارند و ممکن در زمینۀ عملی شدن این طرح باعث ایجاد مشکلاتی نیز گردد.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.